محمد معصوم هوتک ۲۰۱۶/۰۲/۱۵

دکندهار کتابتونونه اومشهورخطي کلکسيونونه

۱ ـ بيت الاشراف

دمعاصرافغانستان لومړنی دولتي موزيم ددغه دولت د مؤسس لوی احمدشاه بابا(۱۱۶۰ ـ ۱۱۸۶هـ ق) په امر او اراده په ۱۱۶۸ هـ ق کال جوړ سوی دئ چي بيت الاشراف نوم ئي پر ايښی وو. په بيت الاشراف کي د کتابو برخه هم وه چي په هغه کي د بابا په اراده راټول سوي او خطاطي سوي کتابونه پراته ول. تردغه کتابتون دمخه موږ د کندهار په تاريخي مېنه او زاړه ښار کي د دوو نورو کتابتونو څرک لرو چي يو ئي د بيت الاشراف موزيم تر جوړېدو دوه سوه پنځوس (۲۵۰) کاله پخوا او دوهم ئي ددغه موزيم تر احداث څه کم دېرش کاله پخوا موجود وو. د لومړي پخواني کتابتون په باب زموږ معلومات د هغه ډېرين دېگ پر ليکنو باندي ولاړ دي چي دکندهار د زاړه ښار د سلطان ويس بابا په خانقاه کي پروت وو. علامه حبيبي د " تاريخ افغانستان در عصر گورگانيان هند" د۱۳۸۹ ش چاپ کندهار په ۲۲۸ مخ کي د نواب صمصام الدوله د مآثرالامراء د ۲ / ۶۶۱ مخ په حواله ليکي چي د زاړه کندهارختيځ ته يوه دروازه د " ويس قرن" په نامه يادېدله او زياتوي چي په ۱۰۵۸هـ ق کال کي دفارس د لښکرو په مقابل کي ددغي دروازې ساتنه د ښادي خان پر غاړه وه. د" ويس قرن" يا د"سلطان اويس" زيارت اوس هم د زاړه ښار د کنډوالو ختيځ ته واقع دئ. په دغه زيارت کي يو ډېرين دېگ پروت وو چي داعليحضرت امير امان الله خان په امر په ۱۳۰۶ ش کال د کابل موزيم ته يووړل سو. پر دغه دېگ باندي په پنځو برخو (منطقو) کي يوه وقف نامه کيندل سوې ده چي بشپړ لوستل سوی متن ئي د هماغه کال دطلوع افغان په ۵۴ گڼه (۱۴ جوزا ۱۳۰۶ش) کي چاپ سوی دئ او علامه رشاد (رح) پخپل درانه اثر (دکندهاريادښتونه ـ ۱۱۵ ، ۱۲۰ مخونو) کي هم راخيستی دئ. په دغه وقفنامه کي راغلي دي چي د" سنگحصار، ده روح آباد" مځکي ـ د ميوند او کشکنخود ترمنځ د" دهک" کاريز او د کشکنخود "چهل گزي" کاريز ـ د " اعلصر؟" ،" زنگی آباد(زنگاوات)" ، "ميخوش (ماهی د زلخان څنگ ته د يوه کلي نوم دئ. م . هـ)" او "هومال؟" کليو څلور باغونه ـ دننه په قندهارښار کي د" ماشوري بازار" اته شپيته دوکانونه، ددغه بازار لويديځ ته شپاړس دوکانونه او ختيځ ته ئي اووه دوکانونه او دغه راز اووه ويشت نور دوکانونه ـ د ښار په چارسو کي حمام او ددغه ځای ټول کاروانسرايونه و هغي مدرسې ته وقف دي چي د طالب العلمانو او نورو کارکوونکو له پاره ئي هره ورځ يو خروار اوړه، څلور منه غوښه، دوه منه مالگه، دوه منه بصل (پياز)، دوه منه حمص (نخود) او دوه منه "جذر وشلجم" حواله کېدل . د دوبي په شپږو مياشتو کي هره ورځ يو خروار ډوډۍ پر مستحقانو وېشل کېده. په هرو درو مياشتو کي ئي پنځه منه دوښاب، يو من غوړي او يو من د حلوا اوړه له لس منه پخي ډوډۍ سره بېوزلو مستحقوته ورکول کېدله. د مدرسي هر مدرّس ته د د دوولسو تنو لايقو طالبانو پر تدريس باندي د کاله دوه زره نقد،څلوېښت خرواره غنم، شل خرواره اوربشي ورکول کېدلي . داسي ښکاري چي د طالبانو خرڅ پر مدرس باندي وو.دغي مدرسي يا دارالعلوم کتابتون هم درلود چي " کتابدار" ته ئي د يوه طالب په اندازه معاش ټاکل سوی وو. د مدرسي د مشرتوب، د ملاامام، د مؤذن ، د اشپز او نورو خدمه وو په باب د ډېرين دېگ پر بېلابېلو منطقو باندي اوږده بيانونه سته چي زما ددي ليکني موضوع نه ده. پر دېگ باندي د ليکني تاريخ په يو بيت کي ښوول سوی دئ چي له تاريخي مادي څخه ئي ۹۱۹ هـ ق کال راوزي.

ســاخت تاريخ آن بدين تقريب

کاتب العبد " جای شربت آب"

د " جای شربت آب" ابجدي ارزښت ۹۱۹ کېږي البته د(آب) ممدوه الف پر (۲) حساب دئ.
له دي يادونو څخه زما دمقصد ټکی دادئ چي له نن څخه په قمري حساب پنځه سوه اتلس کاله پخوا په کندهارکي ديوه منظم کتابتون څرک په لاس راځي. داسي کتابتون چي مسئول " کتابدار" لري او د يوی تعليمي مؤسسي (دارالعلوم) يوه برخه وه. ددغه کتابتون نور کم (کوم) اثر يا کومه نخښه راپاتې نه ده.
تر دغه کتابتون وروسته موږ ته پټه خزانه په نارنج مانۍ کي ديوه بل کتابتون بيان لري. پټه خزانه ليکي :" پادشاه عالم پناه په ارگ کی دقندهار،هغه قصرچه نارنج باله شی هلته په هفته يوه ورځ درباركاپه کتب خانه کی،اوپه مجلس کي علماجمع کېږی،او شعرااوفضلاټولوی .... " (پټه خزانه،لومړی چاپ ۱۱۱مخ، ۱۳۲۳ش)
په پټه خزانه کي دا هم راغلي دي چي پاچا د رحمان بابا ددېوان له پاره پېښور ته خطاطان ولېږل او خونسخي ئي کندهارته راوړې. ددي کتابتون هم له پټي خزانې پرته بل څه راپاته نه دي.د نارنج مانۍ کتابتون د افشار نادر په غدی کي د ښار له نورو ودانيو سره له منځه ولاړ.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په خير و لولئ

دافشارنادرپه لاس كه دكندهاربنباردنگي مانۍ له خاوروسره برابري سوې اوددې بنارعالمانواوفاضلانوكه دنادري ميرغضبانوترچلاخو لاندي د"نادرآباد"دجوړولوپه اشركي دختوكاسې وچلولې اونور راز رازسپكاوي اوتوهينونه ئې وليدل،خوهغه ولولې ئې خاموشي نه كړاى سواى چي ددغي خاوري دبچيوپه زړونوكي دخپل هيواد،خپل اولس اوخپل ملي زعامت په باب ايشېدلې . دغه جذبې ډېر ژرخپل اصلي مسيرته بيرته ولوېدلي او دا وار د هيواد د ملي زعامت قُرعه ددغي خاوري ديوه اصيل مېړه په نامه وختله . دامېړه ،داتوريالى، دا فرهنګپال اوادبپال پښتون احمدخان ابدالى و،چي دخپل اهليت و شهامت وعلميت وملتپالني له خاطره ئې په پښتنوكي د"لوى احمد شاه بابا" لقب وګاټه .داوخت هغه دچاخبره " آب رفته بازآمدبجوى" او كندهار بيا د سياست و علم ملى مركزسو. له هند،سندهـ اودپښتونخوا له نوروسيموڅخه علماوو،ادباوواوشعراووورته مخ راونيوئ اودلته ئې دعلم وادب هنګامه بياتوده كړه. لوى احمدشاه بابادافغاني شاهانودود وپاله او نه يوازي ئې د علماوو او شاعرانود رناوى وكړ، نه يوازي ئې دهغوى له پاره مادي و معنوي امكانات برابركړل،بلكي پخپله ئې هم قلم را واخيست او ددغه لوى فرهنګي بهير په سر كي ودرېدئ ،قلم ئې وچلاوه،شعرئې ووايه اوپه شعوري توګه ئې خپل رسالت اداكړ. دنورو فرهنګي هڅوترڅنګ ئې لكه پاس چي مو وويل، په ۱۱۶۸ هـ ق كال د"بيت الاشراف" په نامه يو ملي موزيم جوړ كړ چي په هغه كي ئې دخطي آثاروبرخه هم په پام لرله . لوستونكو ته دي معلومه وي چي لوى احمدشاه بابا د بيت الاشراف تر تاسيس وروسته په ۱۱۷۰هـ ق كال خطاطان وګمارل چي ډول ډول كتابونه استنساخ كاندي. علامه رشاد د ميرزا محمدهاشم بهشتۍ خراساني د تاليف " نګارستان سلطاني" دهغي برخي په حواله چي د ۱۱۷۰ هـ ق كال پېښي پكښې بيان سوى دي ليكي چي د" عبدالقادربيدل ديوان ئې هم په دغه كال وموندئ". د نګارستان سلطاني مؤلف دلوى احمدشاه بابا او د هغه د زوى تيمور شاه ددرباروُنو منشي وو. عزيزالدين وكيلي فوفلزايي د "تيمورشاه دراني" د لومړي ټوک په ۷۷ مخ (چاپ دوم) كي دغه نګارستان سلطانى كتاب " نسخه منحصر بفرد" بللې ده او زياتوي چي په هغه كي " ... و اثر او حاوى شرح حال و آثار و نوادر و نكات و قطعات نظم و نثر تاريخ است". په دغه وخت كي يو بل كتاب هم ليكل سوى دئ چي "نګارستان عجائب و غرائب" نوميږي. ددغه كتاب مولف" پشاورى" نوميږي او وايي چي د افشار نادر له معاصرينو څخه وو. نګارستان عجائب و غرائب د محيط طباطبائى په مقدمه په ۱۳۴۱ ش كال په تهران ــ ايران كي چاپ سوى دئ.

علامه رشاد مرحوم وايي : په ۱۱۷۳ هـ ق كي چي بابا ډهلي ته ورسېد، هورې ئې بيا" خطاطان ، ميناتورليكونكي تذهيب كاران وګمارل چي د نظامي، اميرخسرو دهلوي، شهزاده داراشكوه، مولاناى بلخي مثنوي وليكي. ميرزا عبدالهادي او ميرزا الله ويردي ئې وګمارل چي د نورالعين واقف لاهوري ديوان وليكي". (وګ : داحمدشاهي عصر نوميالي ــ ۱ / ۸۶ مخ ــ چاپ ۱۳۹۴ش) دغه آثار په احمدشاهي كتابتون كي چي د بيت الاشراف يوه برخه وه، خوندي سوي ول. په دغه كتابتون كي پر نورو آثارو سربېره يو خطي قرآن شريف وو چي په كوفي خط ليكل سوى او ويل كېده چي د حضرت امام حسين (رض) په خط وو. دا قرآن عظيم د لوى احمد شاه زوى شهزاده تيمور ته هغه وخت په لاس ورغلى چي نوموړى د پلار له خوا په هرات كي د والي په توګه ټاكل سوى وو. شهزاده تيمور دغه نفيسه نسخه د۱۱۷۵ هـ ق كال د لومړۍ خور پر ۲۱مه له درويش علي خان هزاره څخه په پنځوس تومنه رانيولې او د خپل پلار كتابتون ته ئې را لېږلې وه.(وګ : داحمدعصر نوميالي ــ ۸۶ مخ)

په دغه كتابتون كي د خوشحال خان خټک د كلياتو يوه نسخه هم پرته وه چي د شيخ محمد اعظم په لاس د محمدعلي خان له پاره په ۱۱۴۱هـ ق كي استنساخ سوې وه. دا نسخه لوى احمدشاه بابا ته هغه وخت وړاندي سوې وه چي په " ارض اقدس (مشهد)" كي وو. په هغه وخت (۱۱۶۸هـ ق)كي ئې امر كړى وو چي د خوشحال خان خټک دغه كليات دي د كندهار كتابتون ته ولېږدول سي.

دغه تاريخي او علمي خزانې زموږ د نورو وياړونو په شان دغفلت او بې پروايېوله امله له منځه تللي دي خو يوه نخښه ئې لا تر اوسه هم د لوى احمدشاه بابا په مقبره كي پرته ده او هغه دقرآن عظيم يو ښكلې او نفيسه نسخه ده .

دغه خطي قرآن عظيم په ۱۱۷۸ هـ ق كال چي د لوى احمدشاه بابا د پاچهۍ اتلسم كال كيږي، د نواب مصلح الدوله نورالدين خان بهادر درانى باميزي په فرمايش په كشمير كي خطاطي سوى دئ. د خطاطۍ كار ئې د ۱۱۷۸ هـ ق د رجب په مياشت كي پيل سوى او د ۱۱۷۹ هـ ق كال د ربيع الثاني پر لسمه پاى ته رسېدلى دئ. پر حاشيو باندي ئې په دريو چوكاټو كي تفسيرحسيني، تفسير حقايق التنزيل او تفسير خواجه معين الدين نقشبندي ورسره مل كړى دئ.

تفسير حسيني د مولانا كمال الدين حسين بن على كاشفي واعظ هروي (۸۴۰ ــ ۹۱۰هـ ق) تاليف دئ. ددې تفسير ژبه فارسي ده او بل نوم ئې " مواهب عِليّه"دئ. تفسير حسيني څو واره په هندوستان كي چاپ سوى دئ. ډېر پخوانى چاپ ئې چي زما په سترګه سوى دئ، هغه د۱۲۴۳ هـ ق = ۱۸۲۷ع د كلكتې چاپ دئ.

د تفسير حقايق التنزيل په باب زه دونه قدر ويلاى سم چي د تفسير نسفي بشپړ نوم " مدارک التنزيل و حقايق التاويل" دئ خو په تفسير نسفي سره زيات شهرت لري. دا تفسير ابوحفص نجم الدين عمر نسفى (متوفى ۵۳۷هـ ق) په عربي ژبه ليكلى دئ. دمحمود بن عمر زمخشرى خوارزمي تفسيربيا" الكشاف عن حقائق التنزيل و عيون الاقاويل" نوميږي .د قرآن عظيم د نوموړي خطي نسخې پر څنډه باندي د حقائق التنزيل څېړنه زه هغه وخت بشپړولاى سم چي فاني ژوند او حوادث دونده (دومره) فرصت راكړي چي په سر سره پر همدغه خطي قرآن شريف باندي له نزدې څخه تحقيق وكړم.

د خواجه معين الدين نقشبندي تفسير په " تفسير معيني" سره هم ياديږي. مولانا معين الدين بن خواجه محمود نقشبندي د شيخ عبدالحق محدث دهلوي (وفات ۱۰۵۲ هـ ق) له شاګردانو څخه دئ. مولانا معين الدين په عربي او فارسي ژبو تفسيرونه كښلي

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكنې د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولـئ

دي چي فارسي تفسير ئې " شرح القرآن معينی" او عربي تفسير ئې"زبدة التفاسير" نوميږي.(وگ : زندگانی شاه ولی الله محدث دهلوی ـ ص ۴۱ چاپ ۱۳۸۳ش)

دلوی احمدشاه بابا د مقبرې ددغي نفيسي او نادري نسخې د استنساخ کار د علي اکبر خان ورکزي تر اهتمام لاندي سرته رسېدلی دئ. علي اکبر خان د نواب نورالدين خان مصلح الدوله له ملگرو څخه وو. نورالدين خان مصلح الدوله تر حاجي کريمدادخان باميزي دمخه د لوی احمدشاه بابا له خوا دکشمير ناظم ټاکل سوی او تر ۱۱۸۶ هـ ق پوري پر همدغه دنده پاته وو. په تاريخ احمدشاهي (۴۳۳مخ ـ دوهم چاپ ـ دانش خبرندويه ټولنه) کي ئې نورالدين خان باميزی د اشرف الوزراء شاولي خان باميزي د اکا زوی" بنی عم" بللی دئ.

ددغي خطي نسخې عکسونه ما(هوتک) د گران سيدعبدالستار مهتابي په مرسته برابر کړل او دادئ يوه دوه مخه ئې له دې ليکني سره تبرکاً يو ځای کوم. زه به که دخدای رضا وه د کندهار د نورو کتابتونو لړۍ تر دې وروسته پسې تعقيب کړم.

نوربيا

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ